اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِالْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّابَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# حضرت عثمان هم جنّتي جنّتي

**دُعائے عطّار:** یا ربَّ المُصطفےٰ! چې څوک هم دا رِساله "حضرت عثمان هم جنّتي جنّتي" اُولوَلي یا ئې واورِي، هغه ته د خپل خوږ خوږ آخري نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږ صحابي حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ د سخاوت او حیا نه برخه نصیب کړې او جنت الفردوس ته ئې بے حسابه نه داخل کړې۔

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د حضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمان مبارک دے: د هر کس دُعا په پرده کښې وي تر هغه وخته پورې چې په **مُحَمَّد** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او په آلِ **مُحَمَّد** باندې دُرود اُووائي۔ (معجم اوسط، 211/1، حدیث: 721)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## جنّتي کوهے

د الله پاک د خوږ نبي، مکي مدني، **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږو صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُم چې کله د مکے معظمے نه هجرت اوکړو او مدینے منورے ته راغلل نو د مهاجرینو د کثرت په وجه د اوبو کمے محسُوس کړے شو، د بني غفّار قبیلے یو کس سره یو کوهے وو چې نوم ئې "رُومه" وو- هغه به د هغې نه یو مشک اوبه په یو مُد ورکولې (مُد یوه پیمانه ده چې د دوو رطلو یعني 787.32 گرام برابر ده)- نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه کس ته اُوفرمائیل: دا کوهے د جنت د کوهي په بدله کښې په ما باندې راخَرڅ کړه- هغه کس عرض اوکړو: یارسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما او زما د بچو د دې نه علاوه بل څه د گټې ذریعه نشته لِهذا زه د دې معاملے طاقت نه لرم- کله چې دا خبر حضرت عثمان رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ ته اورسیدو نو هغوئي هغه کوهے په 35000 زره درهمه واخستو او په بارگاه رسالت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې حاضر شو او عرض ئې

اوکړو: يارسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! که زه هغه کوهے واخلم نو آيا ماسره به هم د هغه سړي په شان معامله کوئ؟ (يعني د جنت د کوهي په بدله کښې به ئې زما نه قبلوئ؟) رحمت عالم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: بالکل، حضرت عثمان غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ عرض اوکړو: يارسول الله! ما هغه کوهے واخستو او د مسلمانانو د پاره مې وقف کړو- (معجم کبیر،2/41،حدیث:1226)

د يو روايت مطابق حضرت سيدنا شيخ عبد الحق محدث دهلوي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د علامه عبدالبَر رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په حواله سره ليکي چې هغه کوهے د يو يهودي وو- هغه به د هغې اوبه په مسلمانانو باندې خرڅولې- نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه کوهي د اخستلو ترغيب ورکړو نو حضرت عثمان غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د هغه يهودي نه په دولس زره درهمه نيم کوهے واخستو، کله چې هغه يهودي ته د باقي نيم کوهي نه فائده اخستل مشکل شُو نو حضرتِ عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هغه باقي کوهے هُم په اته زره واخستو (او د ټولو مسلمانانو د پاره ئې وقف کړو-) (تاریخِ مدینہ، اُردو،205)

**د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

**اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**اے عاشقان رسول!** د هغه مبارک کوهي په شان و عظمت باندې لکونه سلامونه چې د هغه مبارک کوهي نه د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوبه څښل هم ثابت دي- نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو ځل په دغه لاره تيريدلو، ورته اُووئيلے شو چې حضرت عثمان غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ دا کوهے اخستے وو او صدقه کړے ئې وو نو نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دعا اوغوښتله: مولا! د عثمان د پاره جنت لازم کړې - بيا ئې د هغه کوهي اوبه راوغوښتلې او اوئې څښلې او ارشاد ئې اوفرمائيل: په دې علاقه کښې به ډير زر ډيرې چينے وي او خوږے به هُم وي خو بئرِ مزني (يعني رومه کوهے) به د ټولو نه خوږ وِي- (سبل الہدیٰ والرشاد،7/227)

## د حضرت عثمان غني دپاره دُعائے مصطفٰے

نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې کوهي په اخستلو باندې دا دعا ارشاد اوفرمائيله: ”څوک چې بئر رومه واخلي هغه به په جنت کښې [په جَنَّتي مشروباتو] موړ کړے شي-“

(تاریخِ مدینہ لابن شبہ،1/154ماخوذا)

” رُومه “ د هغه کوهي د مالک نوم وو د چا نه چې حضرت عثمان غني رضی اللہ تعالٰی عنہ کوهے اخستے وو- دا کوهے د مسجدِ قِبلَتَين نه شمال طرف ته واقع دے، د دې اوبه ډيرې زياتې خوږې سپکې او زر هضميدُونکې دي، اوس دې ته ”بيرِ عثمان “ او ”بيرِ جنت “ هُم وائي، ځکه چې د دې کوهي په اخستلو باندې حضرت عثمان غني رضی اللہ تعالٰی عنہ سره د جنت وعده شوې وه- (مرآۃالمناجیح،398/8)

اللہ سے کیا پیار ہے عثمانِ غنی کا　　محبوبِ خدا یار ہے عثمانِ غنی کا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت عثمان غني رضی اللہ تعالٰی عنہ تعارف

**اے عاشقان صحابه و اهل بيت!** جامِعُ القرآن، دريم خليفه، حضرت عثمان غني رضی اللہ تعالٰی عنہ د فِيل د واقعے په شپږم کال پيدا شو او د دوئي د نسب سلسله په پينځؤ واسطو سره د الله پاک خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ميلاويږي - (تاریخ الخلفاء،ص118) دوئي د دين اسلام په اولو ورځو کښې اسلام قبول کړے وو، او د دوئي کُنيت ”ابو عمرو“ او لقب جامع القرآن دے، او دوئي ته صاحب الهِجرَتَين هم وئيلے کيږي ځکه چې دوئي اول حبشے ته او بيا مدينے منورے ته هجرت کړے وو- (کراماتِ عثمان غنی،ص3-4)

## د حضرت عثمان غني بےمثاله خصوصيت

**اے عاشقان صحابه و اهل بيت!** دحضرت عثمان غني رضی اللہ تعالٰی عنہ د شان به څه وائې! د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خُوم کيدلو کوم خصُوصِيّت او اِنفراديّت چې حضرت عثمان غني رضی اللہ تعالٰی عنہ ته حاصل شوے، هغه په کائنات کښې بل چا ته نه دےحاصل شوے، د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پورې د چا په نکاح کښې هم د يو نبي دوه لُونړه نه دي راغلي خو حضرت عثمان غني رضی اللہ تعالٰی عنہ هغه خوش نصيبه، او جنتي صحابي دے د چا په نکاح کښې چې د بل چا نه، بلکه د ټولو انبياء کرامو دسردار، نبي احمد مختار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، دوه شهزادګۍ پرله پسے په نکاح کښې راغلي دي- ځکه د دوئي يو لقب ”

ذُو النُّورَين " (يعني دوو نورو والا) هم دے، د الله پاک خوږ پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: كه زما لس لُونړه هم وے نو نو ما به (د يوے نه پس د بلې سره) ستا نكاح كوله- (معجم كبير، 22/ 436،حديث:1061)

## د حضرت عثمان غني غم

د الله پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړه ټكړه حضرت رُقَيَّه رضی اللهُ تعالی عنها چې كله وفات شوه نو حضرت عثمان غني رضی اللهُ تعالی عنه ډير زيات اُوژړل، نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترينه تپوس اوكړو: عثمانه ولے ژاړې؟ عرض ئې اوكړو: زه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خُوموَالي نه محرومه شوم، دا ئې چې واوريدل نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: ما ته جبريل امين عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوكړو چې د الله پاک حكم دے چې زه د خپلې دوئيمے شهزادګۍ اُمِّ كُلثُوم رضی اللهُ تعالی عنها نكاح تا سره اوكړم په دې شرط چې مَهر به هم هغه وي كوم چې د رُقَيَّه رضی اللهُ تعالی عنها وو او دې سره به ته هغه شان سلوک كوے څنګه چې تا د رُقَيَّه رضی اللهُ تعالی عنها سره كولو، چنانچه د حضرت اُمِّ كُلثُوم رضی اللهُ تعالی عنها نكاح د حضرت عثمان غني رضی اللهُ عنه سره اوشوه- په دنيا كښې داسې خوک هم نشته چې د هغه په نكاح كښې د يو نبي دوه لُونړه راغلې وي په دې وجه دوئي ته " ذُو النُّورَين " وائي يعني دوو نورونو والا- معلومه شوه چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم نُور دے او د نبي كريم اولاد هم نُور دے- (مرقاة،10/445،تحت الحديث:6080، مرآةالمناجيح،8/405) اعلٰى حضرت دا نسبت څومره په خوږ انداز كښې بيانوي:

نور کی سرکار سے پایا دوشالہ نُور کا | ہو مبارک تم کو ذُوالنُّورَین جوڑا نور کا

(حدائقِ بخشش، ص246)

## دوه نورونو والا وئيلو يوه بله وجه

حضرت علامه عبد الرؤف مناوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ليكي: حضرت عثمان غني رضی اللهُ تعالی عنه ته ذو النورين څكه وائي چې كله به دوئي د جنت د يو محل نه بل محل ته تشريف وړي نو په دوئي باندې به دوه ځله د نور تجلي ظاهريږي- (فيض القدير،4/399،تحت الحديث:5379)

نورِ دِل و عین ہیں صاحبِ نورَین ہیں | سب کے دل کے چین ہیں مومنوں کی جان

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْـب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت علي د حضرت عثمان غني سره محبت

د مسلمانانو څلورم خليفه، جنتي صحابي حضرت مولٰي علي رضی اللہ تَعالٰی عنْہ نه د حضرت عثمان غني رضی اللہ تَعالٰی عنْہ په باره کښې تپوس اوشو نو هغوئي اوفرمائيل: حضرت عثمان رضی اللہ تَعالٰی عنْہ هغه کس دے چې په مَلاءِ اعلٰی (يعني د اسمان فرشتو) کښې په " ذو النورين " ياديږي - (تاریخ الخلفاء،ص119)

زما پير و مرشد امير اهلسنت د حضرت عثمان غني رضی اللہ تَعالٰی عنْہ په شان کښې خپل نعتيه کتاب "وسائلِ بخشش" کښې ليکي:

نبی کے نور دو لیکر وہ ذُوالنُّورَین کہلائے ۔۔۔ انہیں حاصل ہوئی یوں قُربتِ محبوبِ رحمانی

(وسائلِ بخشش،ص584)

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْـب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دوه ځله ئې جنت واخستو

**اے عاشقان صحابه و اهلِ بيت!** د حضرت عثمان غني رضی اللہ تَعالٰی عنْہ شان ډير اوچت دے، دوئي په خپل ژوند کښې دوه ځله د مُصطَفٰی جان رَحمت صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه جنت واخستو، آؤ جي! يو ځل په بئر رُومه باندې چې هغه ئې واخستو او د مسلمانانو د اوبو څښلو دپاره ئې وقف کړو او په دوئيم ځل د جيشِ عُسرت (يعني غزوه تبوک) په موقع باندې- د غزوه تبوک په موقع مسلمانانو سره د مال کمي ته چې دوئي اوکتل نو د سَلو اوښانو، په دوئيم ځل ئې د دوه سوه اوښانو او په دريم ځل ئې د درې سوه اوښانو ورکولو وعده اوکړه- حضرت عبد الرحمٰن بن خبّاب رضی اللہ تَعالٰی عنْہ فرمائي: کله چې نبي کريم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا واوريدل نو د خپل مبارک منبر نه راکوز شولو او دوه ځله ئې داسې اوفرمائيل: نن نه پس چې عثمان څه هم کوي په ده باندې هيڅ مواخذه (يعني تپوس) نشته-" (ترمذی،5/391،حدیث:3720ملخصاً)

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃُ اللہِ تَعالٰی عَلَیْہ د دې حديثِ پاک د دې حِصَّے " چې د نن نه پس عثمان غني رضی اللہ تَعالٰی عنْہ څه هم کوي په ده باندې هيڅ مواخذه (نيوکه) نشته-" په شرح

کښې لیکي: یعني عثمان د نن نه پس چې کوم کار هم کوي دوئي ته به مُضِر (یعني نقصان ورکوونکے) نه وي- د دې عالي فرمان دا مَنشا (مطلب) نه دے چې حضرت عثمان غني رضی اللہ تعالیٰ عنہ ته د ګناهونو اجازت ورکړے شو بلکه دا داسې ده لکه چې د مرغئ وزرې کټ کړے شي او بیا ورته اُووَئیلے شي چې زه والوَزه، نو هغه به څنګه والوزي، دغه شان نبي کریم صلی اللہ علیہ والہ وسلم د عثمان غني رضی اللہ تعالیٰ عنہ په زړه باندې خپل لاس مبارک کیښودو نو بیا به د عثمان رضی اللہ تعالیٰ عنہ په زړه کښې د ګناه خیال څنګه راشي- (مرآۃ المناجیح،8/395)

مجھے اپنی سخاوت کے سمندر سے کوئی قطرہ عطا کر دو نہیں دَرکار مجھ کو تاجِ سُلطانی

(وسائلِ بخشش،ص585)

## دَ حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم آخري غزوه

خوږو اسلامي ورونړو! غزوهٔ عُسرت د تبوک د غزوهٔ نوم دے او په دغه غزوه کښې شرکت کوونکو ته " جیشِ عُسرت " وائي ځکه چې دا غزوه په داسې حالت کښې شوي وه چې مسلمانان ډیر بے اسره او په تنګئ کښې وو ، سخته ګرمي وه او د تبوک مقام د مدینے منورے نه 660 مِیله لرې وو- نبي کریم صلی اللہ علیہ والہ وسلم خلقو ته د چندے ورکولو ترغیب اوفرمائیلو- د تبوک غزوهٔ د نبي کریم صلی اللہ علیہ والہ وسلم آخري غزوه ده چې په نهمه هجرئ کښې شوي ده، د دې نه پس نبي کریم صلی اللہ علیہ والہ وسلم غزوه نه ده کړې- په دې غزوه کښې د مسلمانانو لښکر ډیر لوئ وو- دبدر په غزوه کښې د مسلمانانو لښکر درې سوه دیارلس وو، په اُحد کښې اووه سوه وو په حُدیبیه کښې پینځلس سوه، د فتح مکه په ورځ لس زره او په غزوهٔ حُنَین کښې دولس زره او په تبوک کښې د څلویښتو زرو او اویا زرو تر مینځه وو- نبي کریم صلی اللہ علیہ والہ وسلم درې ځله د چندے ترغیب ورکړو، په هر ځل حضرت عثمان رضی اللہ تعالیٰ عنہ د سلو دوه سوو او درې سوو اوښانو سره د سامانه اعلان اوکړو، چا ته ئې هډو د وئیلو موقع ورنکړه، سره د سامانه ئې د شپږو سوو اوښانو او د زرو اشرفو اعلان هُم اوکړو- خیال کوئ دا صرف د هغوئې اعلان وو خو د حاضرئ په وخت کښې هغوئي نهه سوه پنځوس اوښان پنځوس اسونه او زر اشرفئ پیش کړې او بیا ئې وریسے لس زره اشرفئ نورې هم پیش کړې- (مرآۃ المناجیح،8/394-395ملتقطا)

دستِ عطا کھل گیا دیکھا جو یہ ماجرا　　غازیانِ مصطفٰی بے سَر و سامان ہیں

## د حضرت عثمان شان د حضرت علي په ژبان

يو ځل د مسلمانانو د دريم خليفه حضرت عثمان غني رضی اللہ تعالٰی عنہ ذکرِ خير کيدلو نو د حضور صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم نمسي حضرت امام حسن مجتبٰي رضی اللہ تعالٰی عنہ اوفرمائيل: اوس به اَميرُ المُؤمِنِين تشريف راوړي- بيا حضرت علي رضی اللہ تعالٰی عنہ تشريف راوړو او اوئې فرمائيل: " حضرت عثمان غني رضی اللہ تعالٰی عنہ د هغه خوش نصيبو نه دے د چا په باره کښې چې د قرآن کريم دا فرمان نازل شوے دے:

اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ثُمَّ اتَّقَوْا وَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ اتَّقَوْا وَّ اَحْسَنُوْا ؕ وَ اللّٰهُ یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۹۳﴾ (پ 7، المآئدہ:93)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: چې ايمان لري او نيکئ کوي بيا اُويَريږی او ايمان لري بيا اُويَريږي او نيکان اوسيږی او الله نيکان خوښوي- (مصنف ابن ابی شیبہ، 91/17، حدیث:32723)

خدا بھی اور نبی بھی خود علی بھی اس سے ہیں ناراض
عَدو اُن کا اُٹھائے گا قیامت میں پریشانی
(وسائلِ بخشش، ص584)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ✿✿✿ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د "عثمان" د پينځؤ حروفو په نسبت د عثمان غني په شان کښې پينځه فرامينِ مصطفٰی

﴿1﴾ سخاوت يوه جنّتي ونه ده او عثمان د هغې د خاخونو نه يو خاخ دے-
(کنزالعمال، جز:11، 273/6، حدیث:32849)

﴿2﴾ يو ځل يو کس په بارګاه رسالت کښې حاضر شو نو نبي کريم صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم د هغه سره مُصافحه اوکړه (يعني لاس مبارک ئې ورسره ملاؤ کړو) تر څو پورې چې هغه کس خپل لاس نه وو راښکلے [تر هغې پورې] حضور صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم د هغه لاس پرې نښودلو، هغه کس تپوس اوکړو: يا رسول الله صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم! حضرت عثمان رضی اللہ تعالٰی عنہ څنګه کس دے؟

ارشاد ئې اوفرمائيل: هغه د جنتيانو نه يو کس دے- (معجم کبیر،309/12،حدیث:13495)

الله غنی حد نہیں انعام و عطا کی　　وہ فیض پہ دَر بار ہے عثمانِ غنی کا

## د خوږ پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خواږه سنّت

**اے عاشقانِ رسول!** اوس تاسو اُولوَستل چې د الله پاک خوږ حبيب آخِري نبي، مکي مدني، **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سلام کوونکي دلاس پريښودلو نه مخکښې د هغه لاس پرې نښودو- نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله د چا سره مصافحه کوله نو په لاس پريښودلو کښې به نه وړومبے کيدلو، دا زمونږ د خوږ پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خواږه سُنَّت دي، کاش! چې د حضرت عثمان غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په برکت مونږه هم په سنتو باندې عمل کوونکي جوړ شو، کاش کاش! چې زمونږ هر عمل د سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بالکل مطابق شي- په سُنَّتو باندې د عمل کولو خومره ښکلے فضيلت دے چې د مدينے جانان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: چا چې زما د سنتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنت کښې زما سره وي- (تاریخ ابن عساکر،343/9)

تِری سُنّتوں پہ چل کر مِری رُوح جب نکل کر　　چلے تُو گلے لگانا مدنی مدینے والے

## جَنَّتي حُوره

﴿3﴾ زه چې جَنَّت ته داخل شوم نو يوه مڼره زما په لاس کښې کيښودے شوه هغه ما په لاس کښې اړوله را اړوله چې هغه مڼره اوچاودله او د هغې نه يوه حُوره (يعني جنتي ښکلې ښځه) را اُووتله، ما ترينه تپوس اوکړو: ته د چا د پاره ئې؟ هغې اُووَئيل: د ظُلماً شهيد کيدونکي حضرت عثمان بِن عَفّان د پاره- (کنز العمال،جز:13،29/7،حدیث:36257)

جس آئینہ میں نورِ الٰہی نظر آئے　　وہ آئینہ رخسار ہے عثمانِ غنی کا

## جنتي ملګرے

﴿4﴾ د هر يو نبي ملګرے وي زما ملګرے (يعني په جنت کښې) عثمان دے-

(ترمذی،390/5،حدیث:3718)

حکيم الامت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃُ اللہِ تعالی علیہ د دې حديثِ پاک په شرح کښې لِيکي: چې زما خصوصي ملګرے به حضرت عثمان رضی اللہ تعالی عنہ وي ګڼې مطلقاً ملګري خو به نور خوش نصيبه خلق هُم وي- چنانچه بعضې رواياتو کښې دي چې زما خاص ملګري به حضرت ابوبکر و عمر رضی اللہ تعالی عنہما وي - (مرآۃالمناجیح،393/8،مرقاۃ،432/10)

## هدايت يافته

حضرت مُرّه بن کعب رضی اللہ تعالی عنہ فرمائي: ما د نبي کريم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم نه واوريدل چې نبي کريم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د نزدې واقع کيدونکوفتنو ذکر کولو يو کس څادر په سر کړے تيريدلو نو خوږ نبي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم اوفرمائيل: هغه ورځ به دا کس په هدايت باندې وي، زه پاڅيدم او هغه کس پسې لاړم چې ما اوکتل نو هغه " حضرت عثمان بن عفّان رضی اللہ تعالی عنہ " وو، حضرت مُرّه بن کعب رضی اللہ تعالی عنہ فرمائي: ما د هغه مخ نبي کريم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ته مخامخ کړو او عرض مې اوکړو: چې آيا دا؟ نو اوئې فرمائيل: آؤ-

(ترمذی،393/5،حدیث:3724،ابن ماجہ،79/1،حدیث:111)

جودِل کو ضیادے جو مقدر کو جِلادے	وہ جلوۂ دیدار ہے عثمانِ غنی کا

## څلور ياران د نبي جنتي جنتي

حضرت نَزّال بن سَبره رضی اللہ تعالی عنہ فرمائي: يوه ورځ مونږ حضرت علي رضی اللہ تعالی عنہ ډير خوشحاله اُوليدو نو مونږ عرض اوکړو: اے اَميرُ المُؤمِنِين! د خپلو يارانو ذکر مونږ ته بيان کړئ- اوئې فرمائيل: د رسول الله صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ټول صحابه زما ياران دي- مونږ عرض اوکړو: د خپلو خاصو يارانو تذکره اوکړئ- اوئې فرمائيل: د حضور داسې يو صحابي هم نشته چې زما يار نه وي- مونږ عرض اوکړو: د حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ تعالی عنہ حال بيان کړئ- اوئې فرمائيل: دا هغه صاحب دے چې الله پاک د جبريل امين علیہ السّلام او د رسول الله صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم په خله باندې د ده نوم " صديق " کيښودو، هغوئې د رسول الله صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم خليفه وو، حضور صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم هغوئې زمونږ د دين د امامت د پاره خوښ کړلو: نو مونږ د دنيا په امامت کښې هم هغوئې خوښ کړلو- مونږ عرض اوکړو:د حضرت عمر بن خطاب رضی اللہ تعالی

عنْهُ په باره کښې څه اُووائئ- اوئې فرمائيل: دا هغه صاحب دے د چا نوم چې الله پاک " فاروق " کيښودو، هغوئې حق د باطل نه بيل کړل، ما نبي کريم صلَّى الله عليه واله وسلَّم نه واوريدل چې اِلٰهي د حضرت عمر رضى الله تعالى عنه په سبب باندې اسلام له عزت ورکړې- بيا مونږ عرض اوکړو: د حضرت عثمان رضى الله تعالى عنه په باره کښې هم څه اووائې حضرت عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی شير خدا رضى الله تعالى عنه اوفرمائيل: دا هغه صاحب دے چې په مَلاءِ اعلٰي کښې په " ذو النورين " باندې ياديږي، د حضور صلَّى الله عليه واله وسلَّم د دوو لونړو خاوند وو او نبي کريم صلَّى الله عليه واله وسلَّم د دوئي د پاره په جنت کښې د يو مکان ضمانت هم فرمائيلے دے- (كنزالعمال، جز:13، 7/101،حديث 36694)(فتاوىٰ رضويه،630/30)

رحمتیں ہوں ہر صحابی پر مُدام | اور خُصُوصًا چار یاروں کو سلام

هر صحابي نبي !.......................................جنّتي جنّتي

حضرتِ صديق هُم !...............................جنّتي جنّتي

او عُمر فاروق هُم!..............................جنّتي جنّتي

حضرتِ عثمان هُم!...............................جنّتي جنّتي

فاطمه او علي !......................................جنّتي جنّتي

هر زوجهٔ نبي !.....................................جنّتي جنّتي

والدينِ نبي!.........................................جنّتي جنّتي

## بيعتِ رضوان څه ته وائي؟

خوږو اسلامي ورونړو! د الله پاک آخري نبي صلَّى الله عليه واله وسلَّم د شپږمې هجرئ د ذِي قَعده مياشت کښې د عُمرے په اراده مکے معظمے ته تشريف راوړلو، کله چې حُدَيبِيه مقام ته راورَسِيدلو نو قريش اُويَرِيدل، حضور نبي کريم صلَّى الله عليه واله وسلَّم حضرت عثمان غني رضى الله تعالى عنه ته خپل پيغام ورکړو او مکے مُکَرَّمے ته ئې اوليږلو چې نبي کريم صلَّى الله عليه واله وسلَّم د عمرے په اراده تشريف راوړے دے، او د جنګ اراده نه لري او دا ئې هم ورته فرمائيلي وو چې کوم کمزوري مسلمانان هلته دي هغوئي ته هم دا دلاسه ورکړه چې عنقريب به مکه معظمه

فتح شي او الله پاک به خپل دين غالِب کړي حضرت عثمان غني رضی اللہ تعالٰی عنہ ئې ځکه اُوتاکلو چې د هغه ځائے په غير مسلمو [يعني کافِرو] باندې هم د حضرت عثمان رضی اللہ تعالٰی عنہ ډېر احسانات وو او هغوئي به د دوئي ډېر زيات احترام کولو، دوئي د قريشو سردارانو طرف ته تشريف يوړلو او هغوئي ته ئې خبر ورکړو هغوئي اووئيل چې نبي کريم صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم دِ په دې کال تشريف نه راوړي او حضرت عثمان غني رضی اللہ تعالٰی عنہ ته ئې اووئيل که تاسو د خانه کعبے طواف کول غواړئ نو اوئې کړئ- حضرت عثمان غني رضی اللہ تعالٰی عنہ ورته اوفرمائيل: داسې نه شي کيدے چې زه د نبي کريم صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم نه بغير طواف اوکړم- دلته په حُديبيه کښې موجودو صحابه کرامو رضی اللہ تعالٰی عنہم اووئيل چې حضرت عثمان غني رضی اللہ تعالٰی عنہ ډېر خوش نصيبه دے چې کعبے شريفې ته اورسيدو او طواف به ئې هم کړے وي- حضور صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم اوفرمائيل: ما ته معلومه ده چې هغه به زمونږ نه بغير طواف نه کوي- په دې کښې دا خبر خور شو چې حضرت عثمان رضی اللہ تعالٰی عنہ شهيد کړے شو- په دې باندې مسلمانان ډېر په جوش کښې راغلل او نبي کريم صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم د صحابه کرامو رضی اللہ تعالٰی عنہم نه په مقابله کښې د ثابت قدمه اوسيدلو بَيعت واخستلو، دا بيعت د يوے ازغنى لرونکي لوئے ونې لاندې اوشو چې هغې ته په عربو کښې " سَمُرَه " وائي- حضور صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم خپل ګڅ لاس په ښي لاس باندې کيښودو او اوئې فرمائيل: دا د عثمان بَيعت دے او دُعا ئې اوفرمائيله: اے الله پاکه! عثمان ستا او ستا د رسول (صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم) په کار کښې دے- دې ته بيعتِ رِضوان ځکه وائي چې د دې متعلق الله پاک په قرآن پاک کښې سورهٔ فتح، آيت نمبر 18 کښې اِرشاد فرمائي:

| لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۱۸﴾ | [مَفهوم] ترجمۂ کنزُالایمان : بےشکه الله پاک راضي شو د ايمان والو نه کله چې هغوئي د هغه ونې نه لاندې ستا بيعت کولو نو الله پاک ته معلومه وه هغه څه چې د هغوئي په زړونو کښې وو نو په هغوئي باندې ئې سکون نازل کړو او هغوئي ته ئې د زر راتلونکې فتحې انعام ورکړو- (مدارج النبوت، 209/2ملخصاً) |
| --- | --- |

## د بيعت ثبوت

اے عاشقان صحابه و اهل بيت! د بيعتِ رضوان د دې واقعے نه معلومه شوه چې د الله پاک آخري نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عَرَبِی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک په عطا سره عِلمِ غيب لري چې حضرت عثمان غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه دے شهيد شوے او دا هم معلومه شوه چې حضرت عثمان غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د الله پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ډيره بے انتها مينه لرله ځکه خو دوئي د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه بغير د خانه کعبے طواف اُونکړو- حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: ګويا چې دا بيعت د الله پاک د رضا کيدو د تمغے د ملاويدلويو ذريعه وه- حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خلقو نه په اسلام باندې هم بيعت اخستے دے، د نيکو اعمالو په کولو هم او د ګناهونو نه د بچ کيدلو او د چا نه سوال نه کولو باندې هُم او په څه خاص عمل باندې هم، دا بيعتونه د موجوده مُروّجه بيعتونو اصل دي کوم چې د اولياء کرامو (رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی) سره کيږي- (مرآة المناجيح، 8/397)

## امير اهلِسنت سره د نسبت برکت

خوږو اسلامي ورونړو! د الله پاک د نيکو بندګانو او اولياء کرامو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی نه د شروع نه د بيعت سِلسِله راروانه ده، اَلْحَمْدُ لِله! زمونږه خوش قسمتي ده چې د دې ګناهونو نه ډک دَوَر کښې د الله پاک په رحم او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت مونږ ته د عاشقان

رسول ديني تحريک دعوت اسلامي ديني ماحول نصيب شوے دے- باني دعوت اسلامي مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العاليه د دعوت اسلامي د باني کيدلو سره سره د شريعت و طريقت کامل پير و مرشد هم دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دوئي ته په څلورو واړو سلسلو (قادريه، چشتيه، سُهرورديه او نقشبنديه) سره سره د مختلفو بزرګانو نه په نورو ډيرو سلسلو کښې هُم اجازتونه او خلافتونه حاصل دي، خو دوئي په خپله ذريعه د سيدي حضور غوثِ پاک شيخ عبدالقادر جيلاني رحمة الله تعالى عليه په سلسله کښې مُريدان جوړوي، څنګه چې غوثِ پاک د ټولو پيرانو پير دے دغه شان د هغوئي سلسله هم په ټولو سلسلو باندې فضيلت لري- هغه عاشقان اولياء چې تر اوسه پورې د يو پيرِ کامل مريدان نه دي جوړ شوي، زما هغوئي ته مدني مشوره ده چې د ايمان د حفاظت، د نيکئ کولو، او د ګناهونو نه د بچ کيدلو ذهن حاصلولو د پاره د امير اهلسنت په ذريعه د پيرانِ پير، پير دستګير سيدي حضور غوثِ اعظم رحمة الله تعالى عليه مريدان جوړ شئ او د دعوت اسلامي ماحول سره تړون اوکړئ، امير اهلسنت سره د نسبت ساتلو په سبب څنګه څنګه برکتونه حاصليږي ستاسو د شوق دپاره يو مدني سپرلے پيش کووم:

د کراچئ (پاکستان) د علاقے نيا آباد د يوے اسلامي خور بيان دے چې د هغې څه رقم چرته اونښتو چې د هغې په وجه د کور اخراجات پوره کول مشکل شول، بالآخر د غربت هغه ورځې پرې راغلې چې لاس ئې بالکل خالي شو او د کور د راشن اخستلو طاقت ئې هم پاتې نه شو، د غربت نه تنګه شوه او خپل کور ئې هم خرڅ کړو، هغه اسلامي خور وائي چې ما د الله پاک په بارګاه کښې د دې مصيبت نه د نجات دعا اوغوښتله، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د غمونو مانښام په تيريدو شو او د دعاګانو اثر په ښکاره کيدو شو ، اوشوه څه داسې چې هغه د ولِي کامل اميرِ اَهلِسُنَّت دامت برکاتهم العاليه مريده جوړه شوه، د سلسله عطاريه سره سره ورته د حضور غوثِ پاک رحمة الله تعالى عليه فيضان هُم په دې طريقه حاصليدل شروع شو چې هغې د امير اهلسنت شجره عطاريه قادريه لوستل شروع کړل، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هغې برکتونه ظاهريدل شروع شو او يوه يوه پريشاني ئې لرې کيده لرې کيده تر دې چې هغه ډوب شوے رقم هم ورته واپس ملاو شو- هغې په مَدرَسةُ الْمَدينه

بالغات کښې داخله واخستله او د قرآن پاک په صحيح تلفظ سره د وئيلو او زده کولو سعادت هُم ورته حاصل شو - (اداکاری کا شوق کیسے ختم ہوا، ص27) د الله پاک دِ په امير اهلسنت باندې رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږ بے حسابه مغفرت اوشي- اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## وفات شريف

حضرت عثمان غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ دولس کاله خلافت اوکړو او په اتلّسم ذُوالْحِجَّةِ الْحرام سن 35 هجرئ کښې د جُمُعے په ورځ د روژے په حالت کښې تقريباً د دوه اتيا کالو په عمر کښې ډير په مظلوميت سره شهيد کړے شو- د شهادت نه پس حضرت عبدالله بن عباس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ رحمت عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه په خوب کښې واوريدل چې فرمائي: بے شکه عثمان رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په جنت کښې يو عاليشان د واده زلمے جوړکړے شو - (رياض النضرة،3/ 73، 76) د الله پاک د په هغوئي ټولوباندی رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه مغفرت اوکړے شي- اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ملی تقدیر سے مجھ کو صحابہ کی ثناخوانی
ملا ہے فیضِ عثمانی ملا ہے فیضِ عثمانی

(وسائلِ بخشش، ص584)

## حساب نه اخستل

په يو روايت کښې دي چې د الله پاک خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل رب نه دعا اوغوښتله چې: مَولٰی! زما عثمان ډير زيات حياناک دے، ته په ورځ د قيامت د هغه حساب مه اخلې ځکه چې هغه به د شرم و حيا په وجه ستا مخې ته ولاړ حساب دَرنَکړے شي- (مرآۃالمناجیح،8/393، مرقاۃ،10/432، تحت الحدیث:6070ملتقطاً)

بِلاحساب ہو جنّت میں داخِلہ یارب
پڑوس خُلد میں سرور کا ہو عطا یارب

(وسائلِ بخشش، ص82)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

نوټ: د حضرت عثمان غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د مبارک سیرت په باره کښې نور لوَستلو د پاره د امیر اهلسنت رِساله "کرامات عثمان غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ" اُولولئ- دا رساله د دعوت اسلامي د ویب سائټ نه فري ډاؤنلوډ کولے هُم شئ-

## ملی تقدیر سے مجھ کو صحابہ کی ثناخوانی

ملی تقدیر سے مجھ کو صحابہ کی ثناخوانی
ملا ہے فیضِ عثمانی مِلا ہے فیضِ عثمانی

رکھا محصور اُن کو بند اُن پر کردیا پانی
شہادت حضرتِ عثمان کی بے شک ہے لاثانی

نبی کے نور دو لیکر وہ ذُوالنُّورَین کہلائے
انہیں حاصل ہوئی یوں قُربتِ محبوبِ رحمانی

نبی نے تیرے بدلے "بیعتِ رضواں" میں کی بیعت
کہا قرآں نے دستِ نبی کو دستِ یزدانی

تمہیں کو جامعِ قرآن کا حق نے دیا منصب
عطا قرآں کو کرکے جمع کی اُمّت کو آسانی

خدا بھی اور نبی بھی خود علی بھی اس سے ہیں ناراض
عَدو اُن کا اُٹھائے گا قیامت میں پریشانی

عداوت اور کینہ ان سے جو رکھتا ہے سینے میں

وُہی بدبخت ہے ملعون ہے مردود شیطانی

ہم ان کی یاد کی دُھومیں مچائیں گے قیامت تک

پڑے ہو جائیں جل کر خاک سب اعدائے عثمانی

امامَ الاسخیا! کردو عطا حصہ سخاوت کا

قناعت ہو عنایت، دَیں نہ دولت کی فراوانی

مجھے اپنی سخاوت کے سمندر سے کوئی قطرہ

عطا کردو نہیں درکار مجھ کو تاجِ سلطانی

عُلوِّ شان کا کیوں کر بیاں ہو آپ کی پیارے

حیا کرتی ہے مولیٰ آپ سے مخلوقِ نورانی

سُخن آکر یہاں عطارؔ کا اِتمام کو پہنچا

تِری عظمت پہ ناطِق اب بھی ہیں آیاتِ قرآنی

(وسائلِ بخشش، ص584)